# Pakhtoonkhwa پښتونخوا

## دپښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند خپرونه


١١ مه ګڼه ١٩٩٢ کال

Jahrgang./Vol.:1992 /6 Nummer/No.: 11


**PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA**

**ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN**

**ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)**


www.pashtoonkhwa.com

pashtoonkhwa@gmail.com

psdp@gmx.net

V. I. S.P. / RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

DR. KABIR STORI

Richardstr.5

5047 WESSELING  GERMANY



Editorial Board/Redaktion

ALI KHAN MASEED

HIDAYAT BANGASH

MUBARIZ  SAPI

GULGHUTAI KUNARAI

AZIZ SARSHAR




# پښتونخوا

د پښتنو د ټولنيز اولسوليز گوند خپرونه

ټوک ۶ گڼه ۱۱

نومبر ۱۹۹۲

JAHRG./VOL 1992/6 Nr./No 11

# PASCHTOONCHWA

# PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISCHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY

**PSDP**

## ليکوال او سرليکونه

مخ

| | |
|---|---|
| ستوری<br>د پښتنو ملي غورځنګونه | ۱ |
| د پښتنو د ټولنيز اولسوليز گوند بنسټيزه (منشور) | ۴ |
| پېژندګلوي | ۴ |
| ښځې ارزښتونه | ۴ |
| مرکز او فعاليت | ۶ |
| غړيتوب | ۶ |
| جرګې | ۶ |
| ټاکنې | ۷ |
| ګوندي محکمه | ۷ |
| دندې، حقوق او مسوولیتونه | ۸ |
| خپرونې | ۹ |
| بيرغ | ۹ |
| د باچاخان جايزه | ۹ |

خپرونکی: د پښتنو ټولنيز اولسوليز گوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN
PASCHTOONCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN

ذمه وار: د وکتور کبير ستوري
V. I. S. P.:
RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:
DR. KABIR STORI
Richard Str. 5
5047 Wesseling
Germany
Tel. (02236) 83463

د خبروني جرگه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD — عليخان محسود
HIDAYAT BANGASH — هدايت بنگش
MUBARIZ SAPI — مبارز ساپی
GUL GHUTAI KUNARAI — گل غوټۍ کونړۍ
AZIZ SARSHAR — عزيز سرشار

# لیکوال او سرلیکونه


| | مخ |
|---|---|
| کورنی دود | ۹ |
| په بنسټیزه کې تغیر او بدلون | ۹ |
| S. H. یاور | |
| دسترگو لید لی حال | ۱۰ |
| عزیزالرحمن سرشار | |
| غزل | ۱۰ |
| هدایت الله بنگښ (خبریال) | |
| نوې دزې | ۱۶ |
| ایمل خان «ستوری» | |
| په کښې د افغانانو یوې درنې غونډې ته | |
| د خان (الا) محمد افضل خان دوبیا لسندیز | ۲۱ |
| ډاکټر دکووال حضرت رسول | |
| افغانستان دحساسی تاریخي مرحلې په درشل کې | ۲۴ |
| غلام نبی سنجی | |
| ترانـــه | ۲۹ |
| محمد اجان «یار» | |
| سنگې او ژوند | ۳۰ |
| گل محمد کوسټی | |
| دژوند هیـلی | ۳۲ |


## د پښتنو ملي غورځنګونه

ستوری

پښتانه د نړۍ په لرغونو قامونو کې شمېرل کېږي چه د اوږد تاریخ او بډایې کلتور خاوندان دي. ددې قام په خاوره کې ډیر قامي غورځنګونه زېږیدلي دي په ۱۶۷۰ کال کې د ملک اودل او ملک حمزه په مشرۍ د بُست په وادۍ کې د مغلو په مقابل کې قامي نهضت راپورته شو. وروسته بیا د همدې سيمې نه د میرویس نیکه په مشرۍ په ۱۷۰۹ ع کال د ایرانیانو په مقابل کې قامي آزادي غوښتونکې غورځنګ راپورته شو او خپل قامي دولت یا شتیتیې جوړکړ چه وروسته بیا په ۱۷۴۷ ع کال کې د احمدشاه بابا لخوا د افغانستان په نامه ونومول شو.

همدغسې د پېښاور سیمه هم د قامي ازادي غوښتونکو غورځنګونو نه خالي نه وه ددې سیمې نه د مغلو په مقابل کې د بایزید په مشرۍ چه طرفدارانو ئې ورته پیر روښان او مخالفینو ئې ورته پیر تاریک وایو قامي ازادي غوښتونکې غورځنګ راپورته شو. وروسته د پیر روښان نه بیا خوشحال خان خټک ۱۶۹۹ ع کال کې په قامي مبارزه پیل وکړ چې مهمې جګړې د تاتړې، دوبې، نوښار او ګنداب جګړه ده چه ایمل خان یکې هم برخه دړلوده.

بیا وروسته چه انګریزان راغلل نو د باچاخان (فخر افغان) په مشرۍ په ۱۹۲۹ ع کال کې د سور پوښو په نوم قامي ازادي غوښتونکې غورځنګ راپورته شو چه انګریزي ښکیلاک ئې د هند د نیمې وچې نه وتلو ته مجبورکړ. داچې پښتون قام تر ټولو زیات مقاومت د ښکیلاګرو په مقابل کې ښودلی دی نو ښکیلاګرو پوی هم دراته ګوزارونه کړیدي انګریزانو پښتانه په دوه برخو وویشل چه یوه برخه ئې د خپلې ادارې لاندې راوستله (رعیت) او بله برخه کې ئې د خپل نمایندۀ پواسطه کار کاوه (قبایل) او دریمه برخه کې ئې یوازې سیاسي علاقه لرله (افغانستان) -



همدغه شان کله چې روسي ښکیلاګر د پښتو خاورې ته خپلې پښې راوړې کړې نو تر ټولو دراته ګوزارونه ئې په پښتو وکړه.

خپل بریچي ببرک کارمل ئې راوست نورمحمد تره کی او حفیظ الله امین ئې ووژل اود پښتې ارزښتونو د له منځه وړلو پسې شو ډګوند ورځپاڼه چه د ثور انقلاب نومیده د پښتو نه په فارسي واړوله او زیات شمیر پښتو کتابونه او د افغانستان د راډیو په ارشیفا کې پښتو سندرې دمنځه یوړې حتی د رحمان بابا او خوشحال خان لیکې ئې په فارسي کړې سربېره پردې ئې د قومي او ژبني تفارونو د راژوندي کولو هلې ځلې پیل کړې او په دې توګه ئې د افغانستان د تجزیه کولو پلان پلي کړ چه د غې د روسیانو په مقابل کې د پښتو مقاومت نور هم تیزکړ او روسیان مجبوره شو چه کارمل بیرته مسکو ته بوځې او د څه مودې د پاره ډاکټر نجیب الله راوستې کړي خو په حقیقت کې خبوه زړه په زړه وه او ډاکټر نجیب الله ډیر واک نه وو ددې واقعیت ثبوت په دې کې پروت دی کله چې د خلق ډګوند نوم دوطن ګوند په نوم بد لیده کارمل په مسکو کې وو خو وطن ډګوند د مرکزي کمیټې غړی وو بالاخره کارمل ئې بیرته کابل ته راولیږه، لاڅه موده وروسته ئې د خپلو ملګرو سره کودتا وکړه او د ملګو ملتو د مؤسستي پلان ئې چې د عملي پړاو ته نژدې شوی وو شنډ کړ.

د کابل په یوې برخې باندې د رباني د دلي په جامه کې د کارمل حاکمیت د همدغه کودتا سیلسله ده چې لو ټماری، وژنه او د انساني حقوقو تیری کونه ئې ورځنی اجندا ده چې د ښځو د حقوقو تلفوول، د انسانانو بې د محکمې بنکاره اعدامول د کتابونو سیزل او د ملي شتمنیو لوټ کول او مزارته انتقالول ئې روښانه مثالونه دي. د رباني د جنایتکارې دلې لاسونه چه پېښاور کې وه هم د پښتنو په وینو سره وو چې زموږ ډګوند د مخکښ غړي عبد الباقي خان شریفي او کڼ شمیر نور وطنپالو نکي ځوانان وژلي دي.



تر هغو چې دغه جنایتکاران د کابل په یوه برخه کې حاکمیت لري، مرکزي حکومت او امن منځ ته راتلای نه شي.

د امن او سولې د ټینګښت او منځ ته راتګ د پاره پکار ده چې دغه د جګړې جنایتکاران محاکمه او په سزا ورسیږي او بیدې توګه د ازادو انتخاباتو او ټاکنې د پاره شرایط برابر شي چې ټول ګوندونه او دلې پکې برخه واخلي او قانوني حکومت منځ ته راشي. د یادولو وړ ده چه تجزیه غوښتونکي جنایتکاران په افغانستان کې میشته لږه کې د پښتنو په مقابل کې راپاروي چه ګواکې ستاسو حقوق ئې خوړلي دي. خو د پښتون قام چې په افغانستان کې مشوروراو په سلو کې د ۷۵ نه زیات دیره کې جوړوي میشته دورونو قامونو ازبک، تاجک، هزاره، ترکمنو او نورو لږه کیو حقوق ندي خوړلي بلکه تاجکو هم د پښتنو هم د هزاره، ازبک، ترکمن او نورو لږه کیو حقوق په ډیر مکراو سپین سترګی سره د پښتو لاندې کړي دي. په افغانستان کې د میشته ورونو قامونو د حقوقو د تضمین او هوسائي لپاره یو فدرالي سیستم پکار دی چې دولسوالۍ او دموکراسي بنسټ جوړي په داسې حال کې چې سنتراليزم یا مرکزي سیستم د دیکتاتوري سره تړلی دی. یوازې یوه فدرالي سیستم کې په افغانستان کې د ورونو قومونو حقوق خوندي کیدی شي چې په سیاسي، ټولنیز، کلتوري او اقتصادي ژوند کې د خپل نفوذ سره سم برخه واخلي. دا یو واقعیت دی چې د لږه کیو ورونو قومونو په نیزه بیا کلتوري حقوق په افغانستان کې د دوا کمنو له خوا د پښتو لاندې شویدي خو دا وکمن که نژادي پښتانه وو کلتوري پښتانه نه وو. او تاجکي کلتور ئې خپل کړی وو حال داچې د ملت یا قام اصطلاح (اصطلاح) یوه کلتوري اصطلاح ده او کومه نژادي اصطلاح نده که نه نو اوس به د دنیا په نوم یو ملت موجود وی.

## نوې زېرې

خبریال هدایت الله بنگښ،

ګلن :

د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند مشر ډاکټر کبیر ستوري، وویل چې :

د بلاکونو د منځه تګ او د کمونیزم د رنګیدو وروسته د نړۍ په سیاسي تاریخ کې نوی پړاو پیل شویدی. په دې پړاو کې د لویو ځواو ویشل شوي قومونه یو ځای کیږي او خپله قامي آزادي ترلاسه کوي. د بلې خوا د ګډو علایقو په بنسټ د سیمه ایزې تولنې د اولسونو د زیاتې هوساینې او سوکالۍ د پاره جوړیږي. د پښتون قام چې کلتوري، ژبنی، نسلي، جغرافیائي او اقتصادي وحدت ورلاندې دی لا ترا وسه تولنې تولنې پروت دی چې دا د سیمې او نړۍ امن ته لویه خطره پیښه کویده. نو ځکه د پښتنو وحدت او یووالي د وخت غوښتنه ده.



ستوري

د پښتون قام چې ژوند ځواک دیو خپل عنعنوي سیستم پښتونولۍ په واسطه سمبال شویدی کولای شي چې په سیمه کې د یې ثباتۍ مخه ونیسي او د آرامۍ تضمین وکوي.

په سیمه کې د سولې د لا ټینګښت او وکړو د هوساینې د پاره سیمه ایز اتحاد هم په کار دی خو دا اتحاد یوازې د آزادو او خپلواکو اولسونو د تړون په واسطه امکان لري چې دا ځبره د پښتنو د وحدت او یووالي ضرورت لا پسې غښتلی کوي.

د قامونو په منځ کې د ژبات تفاهم او وګړو د سوکالۍ د پاره د آسیائي ملکونو په منځ کې د لوی تولنې یا اتحاد په خاطر د هر پښتون همه دنده او وظیفه ده چې د پښتنو د یووالي، اتفاق او خپلواکۍ د پاره اوچت ګامونه واخلي.






او دریم ئې د فرانکفورت په ښار کې ورانډې شو.

د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند لخوا ښاغلي استاد خیال محمد، شاه ولي، ګلزار عالم، بختیار احمد اُستاد او ځوان ماس خان ته او همدغه شان د پښتونخوا د قومي پارټۍ د نشریاتو سکرتر قیصرخان او د پښتنو د کلتوري تولنې مشر شیرین ګودیوال ته د هغه کلتوري خدمتونو له کبله ئې کړیدي د باچا خان جایزې ورکړې شوې او ښاغلي اُستاد خیال محمد ته د باچاخان د جایزې سربېره د پښتو د موسیقۍ د بابا خطاب د کتې ښهر پښتنو په غوښتنه د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند لخوا ورکړ شو.

### پېښاور - ګلن :

د پښتنو د روند مشر خان لالا محمد افضل خان د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند په بلنه د نظریو د بدلون د پاره جرمنی ته راغلی وو د ده هرکلی د فرانکفورت په هوائي ډګر کې د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند د مشر کبیر ستوري د مشرانو د جرګې غړو او کتې ښهر نورو پښتنو لخوا وشو



خان لالا محمد افضل خان


خان لالا محمد افضل خان په جرمنی کې د میشته افغاني سیاسي شخصیتونو او په اروپا دیو ښهر میشته سیاسي شخصیتونو سره د سردارهارون په شمول چې د فوا نسي نه ورته راغلي وو لیدنې کتنې وکړې.

د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند د ۱۹۹۲ کال د سپټمبر د میاشتې په ۲۸ نیټه د خان لالا محمد افضل خان په ویاړ یو درنه غونډه جوړه کړې وه چې کتې ښهر کسانو پکې ګډون کړی وو.



خان لالا د آلمان د سوسیال دموکراتیک ګوند د مخکښو سیاست مدارانو او د پارلمان د وکیلانو سره د علاقې ور موضوعګانو په باره کې د نظریو بدلون وکړ.

بُن : د پښتونخوا د صوبې صوبه ئې وزیر ښاغلي فرید طوفان د خپل یو رسمي سفر په ترځ کې د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند د مشر کبیر ستوري او جنرال سکرتري هدایت الله بنګښ سره د حالاتو په باره کې د نظر بدلون وکړ.



فرید طوفان

برمینګهم - ګلن : د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند یوې ډلګه هم د ګوند د مشر کبیر ستوري په مشرۍ د ګوند د مشرانو د جرګې د غړو عطا محمد شیرزي.



« پاتې برخه په ۲۰ مخ کې »

ګلن :

د ۱۹۹۲ کال په ۱۵ نیټه د پښتنو د کلتوري تولنې په بلنه د پښتونخوا نامتو سندرغاړي استاد خیال محمد، اُستاد شاه ولي، استاد ګلزار عالم استاد بختیار احمد او ماس خان د یوه هنري پروګرام د ورانډې کولو د پاره د پښتونخوا د قومي پارټۍ د نشریاتو د سکرتر ښاغلي قیصرخان په مشرۍ جرمنی ته راغلي وو د پښتنو د تولنیز اولسولیز ګوند د مشرانو د جرګې د غړو او د پښتنو د کلتوري تولنې د مشر ښاغلي محمد شیرین ګودیوال لخوا ئې د بُن ګلن په هوائي ډګر کې هرکلی وشو.




په عکس کې د ښي خوانه استاد ګلزار عالم، استاد شاه ولي، ماس خان او د پښتنو د موسیقۍ بابا استاد خیال محمد لیدل کیږي

د پښتنو د کلتوري تولنې لخوا په جرمنی کې درې ماښامي جوړ شوي وو چې لومړی ماښامي ئې د ګلن په ښار او دوهم ئې د مونشن په ښار کې



« پاتې برخه په ۱۷ مخ کې »

«۱۸ م پاڼي»

مبارز صافي، شيرين کوډيوال او ډاکټر صابر په شمول د پښتونخوا د ملي عوامي
پارټۍ د مشر محمود خان اڅکزي او د دغه ګوند د لوی منشي ارباب همايون
سره د پښتنو او د سيمې د حالاتو په اړوند د نظريو بدلون وکړ.
دواړو خواوو په څو ټکو باندې د يوې متحدې جبهې د جوړولو په ضرورت ټينګار وکړ.

**ګلشن**: د پښتنو د ټولنيز او لسوليز ګوند د مشر ډاکټر کبير
ستوري په وړانديسه د پښتنو د ټولنيز -
او لسوليز ګوند د مستانو د حرکي
لخوا ښاغلي عزيز الرحمن «سرشار» د
شتريانو د چارو د پرمختګ لپاره د ګوند
د مشر د منشي په توګه ومنل شو
عزيز سرشار به په کمېسارۍ رول د ګوند
د راتلونکي ټاکنې پورې دغه چارې پرمخ بيايي.



عزيز الرحمن «سرشار»

پښتونخوا

که وخت راغی سر او مال به کړم فدا
ستا په مينه زما ګراني پښتونخوا
ستا په عشق کې چې عمري مې دي ملګري
يو کتاب او بل قلم اشنا زما
«ستوري»



د اجمل خان ستوري په قلم

## په ګلشن کې د افغانانو يوې دريمې غونډې ته د خان لالا محمد افضل خان د وينا لنډيز

زه د پاکستان د پارلمان د يوه غړي په حيث ستاسې ملک ته د اقوام عالم د پارلمانونو يونين (د نړۍ د پارلمانونو جرګه) ته د ګډون لپاره تللی وم. بيا انګلستان ته ولاړم او د هغې ځای نه جرمنی ته راغلم دلته چې زه راغلی يم ځما ډير خواهش وو چې زه دلته په جرمنی کې زموږ کوم افغانان ورونه دي د هغوی سره ووينم.



په عکس کې د ښي خوا نه عطا محمد شيرزی، خان لالا محمد افضل خان (د وينا په حال کې) او ستوري ليدل کيږي.

خو زما دا راتګ دلته د پښتون سوشل ډموکراټيک پارټۍ د بلنې په بنياد وو دا دواړه پارټۍ زموږ د پښتونخوا قومي پارټۍ او پښتون سوشل ډموکراټيک پارټۍ قريباً په ذهن کې يو دريځ لري موږ سره ډير نژدې دي يو خو دا موجوده غونډه چې کومه ده دا د پښتونخوا قومي پارټۍ او پښتون سوشل ډموکراټيک پارټۍ د دريځ په



موجب نده دا موجوده غونډه محض او محض د دې د پاره ده چې ما غوښتل چې دلته چه توم ئی افغان دي د هغوی سره زه ووينم او د هغوی د رائې نه ځان خبر کړم چه واپسي کې هغه د خپل ګوند غړو ته پيش کړم.

څو موږ د ګوند اوس دا دريځ دی چه د دې خپلو افغانانو ورونو د ذهن او رائې نه ځان خبر کړو د دې ته چې دا مسئله وړ پيښه ده د دې څه حل د هغوی په ذهن کې دی د هغې نه ځان خبر کړو او زموږ چې څه چار کيدای شي کومه منه کيدای شي په هر ډول چې وي چه زموږ د استعداد او زموږ د توانائي پورې وي چې په هغې کې د خپلو ورونو سره امداد وکړو. دا چې ما څنګه الفاظ ووېيل زه به دا ووايم چې د ورونو سره امداد دا لفظ چې ما خبره وکړه دا ته صحي نه وي بلکه داکښتاله زموږ شريکه ده د ډيورنډ د کرښې نه بره زما دا ورور افغان دی خو زما دا افغان سره د پښتون په حيث باندې دا وجود شريک دی دا ځما فرض دی دا کښتاله يوازې نن په دغه کور ده خو دا کښتاله يوازې د هغوی نده پدې کې هيڅ شک نشته دی چې نن راکټ او مزائيل د هاغه په کور غورځيږي، نن کور د هغه وران دی زما. چې او زما کور د هغه نه بېل دی خو هغه لوی کور چه زموږ د ټولو شريک دی هغه ورسره زموږ شريک دی دا ديوه ورور سره کومک ندی بلکه خپل هغه قومي وجود کې ورسره شريک يم چې د ډيورنډ د کرښې نه لاندې څومره پښتانه پراته دي دا ټول شريک دي دا چې کوم مصيبت اوس زموږ په سر دی زه به ستاسو نه او ويل غواړم خو صرف د هغې مختصر د دغه تاريخ متعلق به دا عرض وکړم چه دا افت چې دا کوم نن خپل يو انتها ته رسي او زما په نزد باندې چې څومره دا افغانستان تاريخ دی د دومره تباهي سره افغانان او افغانستان د دې ځمکې په معلوم تاريخ کې چه کوم ماته معلوم دی داسې د دې نه ځمکې ندی مخامخ شوي خو دا تکليف دا دور د دې ۱۴ کاله نه يوازې داسې ندی زموږ د زوال دا دور د مغلو



د وخت نه شروع او دا زوال دور بيا د سکانو چې کله افغانستان خاوره ته راغلل او انګريزان هغوی پسې راغلل نو اولنی چې کوم افغانستان دی هغه په هاغه وخت کې تقسيم شو سکانو چه کله د لنډي په غاړه د نوښار په څنګ د يوسف زو او د سکانو جنګ وو او پېښاور سرداران د لنډي دې غاړې ته د لښکر سره ناست وو او ټولو مورخينو ووېل چې پوره وتلې وای حصه ئې اخستلې وای نو غير ممکنه وه چې سکانو شکست خوړلی وای، يوسف زو هم شکست وخوړو او دا افغانستان دغه خاوره هغه چې دا افغانستان نه لاړه تر اوسه پورې دا افغانستان نه بهر ده عملاً د سلو کالو نه زيات لري چه افغانستان تقسيم شويدی خو قانوناً چې ئې ورته شکل ورکړی دی د هغې قريباً چه يو کال کم کې داسې نو سل کاله به وشي يعنې په ۱۸۹۴ ع کال کې د ډيورنډ کرښه راښکل شويده.

افغانستان هاغه افغانستان وو چې زموږ محنتونو جوړ کړی وو په هغې کې د دهلي - دارالخلافه پېښاور وو او داوري دارالخلافه کابل وو. دغه يو تقسيم خو قريباً موږ دومره موده پوره منلی دی ځما په خيال چې نن دا افغانانو په تصور کې دا نشته چې زموږ هاغه افغانستان کوم يو وو يا دا هم دا افغانستان حصه وه يا ده دغې د وجود د پاره به موږ څه کوو خو نن باقي پاتې افغانستان هم په خطره کې دی د دې مختصر روئيداد سره زه دلته د دې د پاره راغلی يم چې تاسو خپلو ورونو ته دا پيش کړم چې دا مصيبت چې د هغې سره ټول زور به تاسو د موږ د دغه زور نه بهر نه يو موږ دا تباهي او افت هداسې د خپل کور افت ګڼو کله نن چې دلته ستاسو په کور کې چې زموږ د څومره وس او چاره کيږي په حيثيت د پښتون، په حيثيت د دغه قوم د يوې حصې موږ هاغې ته تيار يوو چې د خپل وس او مقدور مطابق دا فريضه او خدمت تر سره کړو.

# افغانستان

## د حساسې تاریخي مرحلې په درشل کې

داکتر ډګروال حضرت رسول



افغانستان د تاریخ په اوږدو کې ډېرې مختلفې دورې تېرې کړې او افغانانو په دغه دورو کې د ډېرو کړاوونو او ربړونو سره لاس په ګرېوان شوي او ډېر تاوانونه او مړګ ژوبلې ګاللې دي.

دلته به یوازې د امیر امان الله خان د افغانستان ترقي غوښتونکي او آزادۍ اخستونکي پاچا نه وروسته دوره تر ننه پورې په لنډ ډول را یاده کړم.

دغه دوره چې د حبیب الله د سقاو زوی د رامنځ ته کېدو نه وروسته چې بې لیارې وهونکي او انسان وژونکي څېره وه د خپلې لیاره وهونکې ډلې سره د کوهدامن څخه د ډېرو بې تجربو او لوټماریو نه وروسته د کابل په لور وخوځېده. په دغه وخت کې د انګرېزانو بې شرمه پروپاګنډ وه چې ګواکې امیر امان الله اروپا ته تللی او هلته کافر شوی دی د خپلو روزل شویو ملایانو په واسطه چې د هندوستان د دیوبند په مدرسه کې ئې زده کړې کړې وې د افغانستان په کوڅه کوڅه کې شروع شوې او په پای کې ددې سبب شو چې امیر امان الله خان خپل ګران هیواد پرېږدي او د عمر تر پایه پورې ایټالیا ته والېږل شي او ژوند وکړي او د نوموړي په ځای داسې یو ځاځین او بې سواده چې هیڅ د دولت او دولت دارۍ ئې په خوب کې نه وو لیدلی په تخت کېنیاوه. ښوونځي او لیسې وتړلې، ښځې



د زده کړې نه محرومې او په کورونو کې بندې شوې، او د ښوونې او روزنې نه محرومې شوې. د دولت اداره د غلو او لیاره وهونکو په لاس ولوېده. ملي شتمنې لوټ او یوه توره دوره په ټول افغانستان کې پیل شوه. انګرېزانو ولیدل چې د سقاو زوی ددې کار جوګه نه دی، ښه به وي چې ددې پر ځای ئې خپل یو اجنټ نادرخان د فرانسې څخه د افغانستان جنوب له لیارې چې ګواکې نادرخان پښتون دی د خپلو روزل شو ملایانو د تبلیغ په واسطه د پښتنو په زور د کابل پر تخت کېنیناوه د هغه د څلورو کالو دورې وروسته د هغه زوی ظاهرشاه چې هغه هم په ټکي پښتو نه پوهېده د کابل د تخت وارث وګاڼه. نوموړي د انګرېزانو دا خبره چې افغانان (پښتانه) باید نه د پرمختګ سترګې ووینې او نه د علم رڼا، چې بیا به بریالي هم شو. ددې خبرې ثبوت دادی چې ظاهرشاه د خپلې پادشاهۍ په موده کې چې افغانان ورته د ظاهرشاه او د هغې د کورنۍ د عیش او نوش دوره هم وائي. تقریباً د نوموړي د ۴۰ کاله پادشاهۍ په دوره کې واقعاً افغانستان د وروسته پاتې هیوادونو په اخرني قطار کې حساب شو. د ښمنۍ او ترټکنۍ ئې د افغانستان په ګوډ ګوډ کې دومره زیاتې کړې چې تراوسه پورې دوام لري. د ثور د نظامي پاڅون نه وروسته یعنې کوم وخت چې په اوم د جدي ۱۳۵۸ کال هـ. ش کې د روسانو «۴۱» اردو چې ببرک کارمل ئې د شاه شجاع په توګه کابل ته راوست چې د تذکرې په پاڼه کې ئې پښتون ملیت پورې تړلی وو داځکه چې په افغانستان کې ٪۷۵ پښتانه ډېره کې لري. او بل ورور ئې یعنې محمود بریالي د تذکرې په پاڼه کې د تاجک ملیت پورې تړلی وو ثبت شوی و، په داسې حال کې چې دواړه ورونه د افغانستان نه بلکه د کشمیر څخه ئې نیکه راغلی دی



ش په نامه په تخت کېنیاوه. ترور، وحشت، افغان وژنه، لوټونه او د افغاني پېغلو بې پردې کول پیل شول. د هیواد ټوله شتمني د بانکو او ملي موزیمونو پورې د کارملیانو، خادیانو او روسانو په واسطه لوټ شوه. په افغانستان کې د جماعتونو، ښوونځیو، پوهنتونونو، کلیو، کورونو، سړکونو او پلونو پورې د روسانو د سکاټ لونا او نورو راکټونو او مډرنو وسلو په واسطه له منځه یوړل شو، د دوئ ددې وحشیانه عملونو په واسطه یو نیم ملیونه افغانان ووژل شول، پنځه ملیونه نور د ګاونډیو هیوادو ته د خپل هیواد په پرېښودو مجبور شول او په زرګونو نور معیوب چې د عمر تر پایه به د خپلې کورنۍ او ټولنې بار وي د خپلو بدنونو غړي له لاسه ورکړي.

د ۱۳۷۱ هـ. ش کال د ثور په اومه نېټه چې برهان الدین رباني، کارمل، مجددي او مسعود په ګډه موافقه چې سعودي عربستان، پاکستان، ایران او د پخواني شوروي د منځني آسیا جمهوریتونو په کې ښخ په ښکېلاس درلود د قدرت واګې مجددي ته وسپارلې او په ددې ورځ نواز شریف او سعودي عربستان د استخباراتو رییس کابل ته د مجددي مبارکۍ او هدایتونو ورکولو لپاره ورغلل او دا په ډاګه شوه چې بیا باندني اجنټان د کابل پر تخت کېنیانل. د مجاهدینو د نورو ډلو لیډرانو ولیدل چې موږ ته کومه برخه په دولت کې نه را کول کېږي نو د مجددي پر ضد پورته شول او کورنۍ جګړه چې کارمل او نجیب ورته پلې وهلې شروع شوه ددې جګړې پر اساس چې اوس هم په ډېر شدت روانه ده ډېر افغانان یعنې ښځې، سپین ږیري، ځوانان او ماشومان



وژل کېږي او د کابل تاریخي ښار په کنډوالې بدل شو، برسېره پر دې د دوستم ازبکو چې قوماندان ئې د کارمل او بریالي پر غاړه ده د کابل ښار د لوټمارۍ نه پرته ډېرې افغانې پېغلې بې پردې او څه ئې د افغاني شهامت او عزت سره شهیدانې کړې او دا بې چمه وژنه اوس هم روانه ده. برهان الدین رباني ته د قدرت لېږدونه په واقعیت کې د پاکستان او ایران د پالیسۍ دوهم پړاو دی او رباني غواړي د پردې شاته د کارمل او مسعود سره یو سیله محسنه رامنځ ته کړي چې ددې ثبوت په مزار شریف کې د کارمل لخوا نظامي شورا جوړېدل، د دوستم لخوا د کارمل هدایتونه او پیغامونه رباني ته رسول، او د ایران لخوا د رباني او شیعه ګانو په موافقه په هرات، فراه، بامیانو او مزار کې د قونسلګریو جوړېدل او په پای کې د افغانستان د ټوټه کېدو پلان چې د کارمل او نجیب د افغانستان د خلکو د محاکمې څخه وژغورې عملي کول دي. برهان رباني په افغانستان کې د راضوان اساسي بنسټ ایښودونکی دی او دیو لاباندې احبته په توګه د ملکه سرته رسوي او نه غواړي چې افغاني او بین المللي اصولو ته غاړه کېږدي. د پاکستان نظامي استخبارات او د ایران متعصبین څه کوي تر څو په افغانستان کې د جګړه موده اوږده کړي او خپل اجنټان چې افغانان به ئې په هیڅ صورت ونه مني د کابل پر تخت کېنوي. چې ددې ناروا او تپل شوو جګړو له امله په هره ورځ په سلګونو افغانان شهیدان او ټپیان کېږي، کورونه، ښوونځي، پوهنتونونه

اونوری ملی شتمنی سوزول کیږی او وبجاړیږی. پدی توره دوره کی چه افغانستان په تاریخ کی به دیوه بل تورتمکی او مرحلی په توګه ولیکل شی د ټولو افغانانو لپاره د نفرت څخه ډکه دوره ده او په ټکه ټی غندی.

موږ په داسی حال کی چی افغانستان دیوی حساسی مرحلی په درشل کی دی د افغانستان ټول مترقی او هیواد پاله قوتونه دی ته رابولو ترڅو چه افغانستان کی ژرتر ژره کورنی جګړه پای ته ورسوی او پری بږدی چی افغانستان دا د توریالیو ټانوبه نورهیسی وبجاړ او په بیدیا بدل کړی، او وکوښی شو د عمومی انتخاباتو لپاره لیاره هواره کړو، او په افغانستان کی د دیرکوند بیزه دموکراتیک او جمهوری سیستم موقع برابره، چه د غه شان ټولو ورونو ملیتونو ته خپل حقوق ورکړل شی، د ژبی او قلم آزادی رامنځ ته، او ټول پانګه وال هیوادونه دافغانستان د بیا ابادونی او سمسورتیا لپاره راوبلل شی چی پدی توګه به موخپله وعده انځی ته رسولی وی.

سحرکه وه د نرګس لیمه لامده
څاڅکی څاڅکی ئی له سترګو څڅیده
ما وېل څه دی بنکلیه ګله ولی ژاړی
دی ویل ژوند می دی یوخوله خندیده
«ستارو انا»



ترانه «غلام نبی سنجی»

کله به موږ د دی ظلمونو نه خلاصیږو
راځی پښتنو سره یو کیږو راځی پښتنو سره یو کیږو

ظالم ته و به ښایو میرانه چی پنځیل ظلم شی ستومانه
نوم به ئی ورک کړو له جهانه چی هیڅ خبر نه شی له ځانه
تو څو به موږ د دوی د لاسه نه زوریږو
راځئ پښتنو سره یو کیږو

پښتنو پاڅی وکړی ټینګ نور د نیمانو کړو ټینګ
پکار دی نور ملی غورځنګ هر پوښتون جوړ شی پټنګ
موږ پښتانه د پښتو ښخوا نور پوری سوځیږو
راځی پښتنو سره یو کیږو

وطن زموږ موږ د وطن یو موږ بلبلان د دی چمن یو
څکه پری تیر د سواوتی یو خوشحاله نور په سورکفن یو
وطن مو نور آزاد وکه برباد یږو
راځی پښتنو سره یو کیږو

د نبی واوری پیغامونه ورونو پوی وکړی عملونه
وطن ته وکړی خدمتونه په ځان قبول کړی تکلیفونه
دلواو بو د نوم نه نور موږ د نیریږو
راځئ پښتنو سره یو کیږو



# ښځی او ژوند

محمد اجان «یار»



زموږ ګران هیواد افغانستان چی د آسیا په زړه کی پروت دی جغرافیائی جوړښت ئی غرنی دی. تود او سړه هوا لری په زیاتو سیمو کی معتدله هوا ده. افغانان او افغانی ښځی ښه روغتیا او صحت لری. افغانی ښځی تل د پاره د خپلو نارینه و سره دراندو کارونو سره رسوی ښځی برعلاوه د کور د کارونو څخه د کرهنی او کرکیلی په چارو کی هم خپلو نارینه و سره جوخت کار کوی. لکه په ځمکه کی کار کول، لرګی راوړل، مالداری کول او داسی نوری چاری پرمخ بیائی د دغو ټولو کارونو په څنګ کی ښځی خپل اولادونه هم روزی دکور پاکوالی د اولادونو جامی پریمینځل د ښځو دنده ده. د ښځی کلتور په لحاظ افغانی ښځی اوږدی جامی اغوندی او ټیکری په سر کوی. پڼی او څپلی پښو کول ئی ځوانی رواج دی. مګر په ځینو سیمو کی ښځی بیلی پښتی هم کړځی. په افغانی ټولنه کی په ټولنیز ژوندانه کی ښځی د نارینه و سره مساوی حقوق لری.

په اختر، ختر او ودونو کی ښځی نوی او پاکی جامی اغوندی، ګاڼی، اچوی لکه: چمکلی، غاړه کی، غوږوالی، په مړوندونو کی بنګړی اچول، چارګل په پزه کول د ښځو سینګار دی. کله چی په کلیو او بانډو کی واده وی نو د کلی ځم ګاونډ ښځی راټولیږی. د ناوی په کورکی په لاسونو نکریزی ږدی تنبلکی او دایری وهی. کلیوالی سندری اولوبی وائی.

همداشان لکه څنګه چی ښځی د کور او بهر کارونو په څنګ کی خپل



خپل اولادونه روزی او د وطن او خلکو د خدمت لپاره ئی ټولنی ته وراندی کوی. د بده مرغه افغانی ښځی د ځوانی زمانی راپدی خوا د لوست او زده کړی نه بی برخی پاتی دی. څنګه چی د نوری د نیا ښځی د نارینه و سره مساوی د ژوندانه ټولی چاری مخکی وړی د علم او تخنیک سره پوره اشنائی لری مګر افغانی ښځی د دغی خوبائی څخه محرومی دی. د ښځو زده کړه او تعلیم زموږ په دین او مذهب کی ممانعت نلری. څکه چی علم په ښځو نرو فرض دی. ضرور کمبل کیږی چی د نارینه و سره ښځی هم زده کړه او تعلیم وکړی. یوازی د انه چی افغانی ښځی په ځوانیو دریعونو کی د علم او زده کړی نه وروسته پاتی شویدی بلکه په دا وروستیو وختونو کی کله چی روسی ګوډاګی رژیم نسکور شو او پرځای ئی مجاهدین د کابل په تخت کښیناستل همغو ښځو چی په رسمی کارو کی ګکیاوی په کورنی کښینولی. د غه کار د ملک په بیا ودانیدو کی لوی خنډ رامنځ ته کوی د ښځو د کار سره تعصب ښودل په اوسنی وخت او نړئ کی وروسته پاتی والی دی. له دی کبله د ګرانو لوستونکو پام و دغی برخی ته را اړوم.

که څوک څیروی اسوده د بل په غیږ کی
دادی وګمنی پسه دیوه خان یم
پسه هم سری ساتی د ذره په مینه
خوددی مینی انجام ته زه حیران یم
«ملی شاعر ملنګ جان»

# د ژوند میلې

«لیکوونکې: ګل غوټه کوزۍ»

دغه د ځمکې کُره چه د میلیاردونو کلو په اوږدو کې زیږیدلې ده نړیتونو کُره سیارو) څخه ښکلې بڼه لري او زیاته ښکلا ورته دغه ښکلې طبیعت ښیلې ده او د ښکلو لوبو ویروسیندونو، بحیرونو، هسکو دنګو غرونو او ښکلو بیدیاوو او د ښتو لرونکې ده. د ځمکې په سر کُره کې بې شمیره انسانان، ژوي، بوټي او وني پکښې ژوند کوي.

دغه د ځمکې کُره یواځې مورد د انسانانو نه ده ژوي او بوټي ئې هم بچې دي د انسانانو لپاره هم غه وني، بوټي ستر خواره ګرځیدلې دي. دغه وني او بوټي د خوږو خوندورو میوو او ښو زیږنده ده.

د ځمکې په لویه کُره (غوټه وسکې) کې هر یو بشر، ژوي او کیا غواړي چه هوسا ژوند وکړي. خو بیا هم مغروره او لوئ غوښتونکي انسانان دغه بې وزله ساه لرونکې «وني، بوټي او ژوي»، د خپل سنه ژوند د لرلو د غوښتنو په وړاندې وژني. او د خپل ژوند د غوښتنو هیلې پرې تر پښو لاندې کوي.

وني، بوټي او ژوي ستل وائي:

ای د ځمکې د ستري کړي ځینې طبیعت له منځه وړونکو او سیدونکو انسانانو! تاسې غواړئ چه د سنه ژوند لرونکې او سې د ښکلو بې شمیره ماهیو، تیمتي مونږه او ستره پانګو لرونکې او سې بې شمیره انسانان، ژوي، او بوټي خپل مړیان کړي او د خپل زبیناک په پنجو کې ئې راولئ........ دغه ستاسو انسانیت دی. چه مونږ وني، بوټي او ژوي د خپلو هیلو قربانئ کوئ او زمونږ په هڅو وکو (اسکلیټونو) سوداګري کوئ.

طبیعت او خپل د اوسیدو چاپیریال په خپل لاس ورانوئ؟

د خوږو ښکو لپاره ټول طبیعت او حتی ټولو انسانانو خپلو همنوعو ته خپل اولاد او ځان نه ضرر رسوئ. مونږ وني بوټي تل ستاسو د چاپیریال د هوا پاکول کوو. تل ستاسې په خدمت کې یو.

مونږ هم ستاسو په شان په دغه کُره کې د ژوند حق لرو.

هوا دغه کُره یواځې ستاسو د ژوند لپاره نده پیدا (شوې ستاسو د پیدا



لیدو مړه سم په دغه کره مونږ هم زیږیدلي یو او پیدا شوي.

ژوي هم تل وائي: ای د وړې انسانانو چه په هیڅ بس نه راځئ د خپل دول او سینګار لپاره زمونږ په ژوند لوبې کوئ نه مونږ ژوند د دې لپاره له منځه وړئ چه ښکلې کوټ، ښکلې موزې او بوټان ولرئ او زمونږ له څرمنې څخه د خپل بو ورځنی دول او سینګار لپاره کار اخلئ. دغه کار دی غیر انسانی دی او تل د نړۍ بشر خواخوږي دی دغه کړنلاره غندي.

کولای شئ چه مونږ له دې نړۍ څخه سترګې د تل لپاره پټولي تاسې نړه ژمنه وکړه چه او س کولای شئ خپل دول سینګار جوړ کړئ.

تاسو خومره خپل ژوند ته ګران دی. ژوي ته هم ستاسو په شان خپل ژوند ترهر څه ګران دی ته به هیڅ وخت ونه غواړئ له دې ښکلې رنګینې نړۍ څخه تل سترګې پټې کړئ که چیرې په خوب کې خپل مرګ ووینئ خومره غوږ دي زیږیږي او په خوب کې توپ وهئ چه سترګې خلاصې کړې چه په همدغه ښکلې نړۍ لا ژوندي ئې او خوب دی ولیده. خومره زیاته خوشحالي وکړئ. ژوي هم ستاغوندي حتی په خوب کې ځان له دې ښکلې نړۍ څخه ورک نه غواړي. ته هیڅکله نه غواړې چه ځوانې دی خاوري شي او واړه بچیان دی یتیمان شي ژوي هم نه غواړي چه واړه بچي ئې بیتیان، بې پلاره او بې موره شي. خیر که مونږ ستاسو په شان پر مختللي عقل نه لرو خو شعور موږ ده کړې ده او شعوراً رسیدلي یو.

خو ستاسو ورځ ستاسې په مخ بیراګان او بې ژبې یو. او له خپل حق او حقوقو څخه دفاع نشو کولای داد طبیعت قانون دا بخښلی ده چه تاسو ئې نسبت مونږ ته عاقل او د سالم فکر لرونکي پیدا کړئ یاست خو مونږ له دغه ستر و نعمتونو څخه طبیعت بې برخې کړي یو. ځکه مونږ بیوزلي تل ستاسې مړیان ساتل شوي یو. او تل ستاسې لخوا مصل کیږو او وژل کیږو. او تل د راتلونکي کارونه په بې رحمانه توګه پر مونږ باندې تر سره رسوي دغه ستاسو مهرباني ده.

د ځمکې پر مخ ځینو عقل لرونکو انسانانو........ هغه طبیعت خواخوږي او بشر خواخوږي چه پوهیږئ او زمونږ د بیوزلو ونو، بوټو او ژوو او بیوزله نړۍ



له بیځلو حقه حقوقو څخه تل دفاع کوي او تل غواړي چه مونږ د زبیناک او استثمار او متکیلاک له پنجو څخه تل وژغوري او تل غواړي چه مونږ د خپلواک ژوند لرونکې او سو. هغوی زمونږ سوی اسویلي او ساړه آهونه درک کوي دي پوهیدلي دي چه دغه بیوزله مخلوقات (ساه لرونکي) تل د انسانانو لخوا زبیناک شوي دي او بیځلي حقوق ئې تل تر پښو لاندې شوي دي. بیا هم تل زمونږ په خدمت کې دي او تل ورځ زمونږ ښیښې او مرستې ته اړتیا لري. نو ځکه دغه طبیعت خواخوږي تل زمونږ له حقه حقوقو څخه ملاتړ کوي او غیر انساني کړنلاري تل غندي. مونږ خپله دفاع نشو په تیښته او ځناوره کې ګورو. نوره دفاع د ځان نشو کولای زمونږ هغه ورونه (ژوي) چه ځنګلي او وحشي دي نو په انسانانو حملې کوي او د خوړونکو ژوو په نوم یادیږي. هغه چه احملي شي او انسانان ئې سره وړوي له دغه وحشي توب څخه لاس اخلي او ورو ورو اهلي کیږي.

مونږ وني، بوټي او ژوي د ټولو انسانانو څخه د ژوند غوښتنه کوو:

زمونږ د بیوزله او تل زبیناک شوي موجوداتو حقه حقوق دې په پوره رسمیت وپیژني زمونږ ده وژلو څخه دې لاس واخلي ځکه مونږ هم حق لرو چه په دغه لویه نړۍ ستاسې غوندې هوسا او سوکاله ژوند وکړو.


په پای کې وایو:

ژوندي دې وي هغه طبیعت خواخوږي چه د مظلوم بشریت........ او بیوزله زبیناک شوي ونو، بوټو او ژوو له حقه حقوقو دفاع کوي.

بلې دې وي د طبیعت خواخوږي چې یوې په ټوله نړۍ کې

> درست پښتون له قندهاره تر اټکه
> سره یو دی ننګ په کار پټ او ښکار
> «خوشحال خان بابا»






که سپوره وی که پوره وی په شریکه به وی

(باچاخان)

*Das Brot, ob belegt oder trocken, wird unter allen gemeinsam aufgeteilt (Batscha chan)*

*Buttered or unbuttered bread will be common (Bacha Khan)*